زما د امت په پای کې به داسې خلک وي چې تاسو ته به هغه څه بيانوي چې تاسو او ستاسو پلرونو به نه وي اوربدلي، نو پام وکړئ او ځان ترې وساتئ

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «زما د امت په پای کې به داسې خلک وي چې تاسو ته به هغه څه بيانوي چې تاسو او ستاسو پلرونو به نه وي اوربدلي، نو پام وکړئ او ځان ترې وساتئ».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د هغه د امت په پای کې به داسې خلک راڅرګند شي چې دروغ به جوړوي او هغه څه به وايي چې له دوی نه مخکې چا نه وي ويلي، او له دروغجنو او جعلي حديثونو څخه به خبر ورکوي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته امر کړی دی چې له داسې - خلکو - څخه لرې شو او ناسته يې ونه کړو، او د حديثونو له اوربدلو څخه يې ډډه وکړو، تر څو هغه له ځانه جوړ شوي حديثونه په زړونو کې ځای ونه نيسي، چې بيا به ترې ځان نشو خلاصولی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65076

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee